# د رحمان بابا شاعري او اسلامي اخلاق

**Rahman Baba's Poetry and Islamic Manners**

محمد ریاض*

**Abstract:**

Good manners are of great importance in human life. They help man to reach zenith in every aspect of life. They play important role in life. Every man should know the aims and needs of life. Good manners and character strengthen faith and its secret lies in piety. They give satisfaction and dignity to the good Muslims. When a person abide by the principles of Islam. They have a positive impact on all his life.Islam has taught us good habits (i.e.) forgiveness, sympathy and tolerance. They are as important for international peace as for personal good. From the life of the Holy Prophet (SAW), one can learn that his teachings of sympathy, mutual co-operation, counseling, help and tolerance are for all human beings not only for the Muslims. Everyone can make his life useful or sweet by acting upon these teachings.

**Key words:** Rehman Baba, Pashto Poetry,Classic Literature, Moral Values.

اخلاق د "خلق" جمع ده په اصطلاح کښې خېر او شر، ښهٔ او بد کښې تميز کولو ته وئيلې شي او معنې ئې عادت او طبيعت دي. ښهٔ اخلاق هغه خوښ او مطلوب افعال دي چې د هغې تړول وکړي تقاضا کولی شي. بل اړخ ته بد خوي هغه ناخوښه افعال ته وئيلې شي کوم ته چې د اجتناب کولو تاکيد کېږي. د انسان د ښو اخلاقو ښکاره نخښه دا هم ده چې کله انسان د مخلوق زور زياتې برداشت کړي او بيا ورستو ورته معافي وکړي نو د الله پاک او د مخلوق په نزد دغه انسان نور هم عزت مند شي. اسلامي پوهانو انساني اخلاق داسې بيان کړي دي.

- د امام احمد رحمۃ الله عليه قول دی " ښهٔ اخلاق دا دي چې غصه مهٔ کوه، حسد مهٔ کوه او د مخلوق نه چې درته کوم تکليف رسي هغه برداشت کوه".
- حضرت حسن رحمۃ الله عليه فرمائي " ښهٔ اخلاق مهربانی کول، خرڅ کول اوبرداشت کول دي".
- مفتی محمد شفيع صاحب ارشاد اوفرمائيل "د اخلاقو حقيقت دا دی چې زمونږ يو کس نه بل ته څهٔ قسم څرګند يا پټ نقصان او غيبت ونهٔ رسي.

دنيا کښې هر مذهب د اخلاقو باره کښې خپلې طريقې بيان کړي دي. اسلام د اخلاقو ډېر لوړ مقام او فائدې مونږ ته ښائلې دي او مونږ که چرې د اسلام ښودلي شوي اخلاقو باندې پوره پوره عمل اوکړو

*Ph.D Scholar, Pakhtunkhwa Study Center, Bacha Khan University, Charsadda

نو دنیاوي ژوند به مو هم ډېر خوندور وي او په اخرت کښې به هم راته ثوابونه او مرتبې ملاوېږي. ضروي خبره ده چې د ژوند په هر اړخ کښې ښۀ اخلاق د ټولونه زیات اهم دي. دا وجه ده چې ښۀ اخلاق د هر انسان دپاره لازمي دي. کتاب "داستان فلسفه" کښې ول ډیورنټ د اخلاقو په باره کښې لیکي.

"اخلاق په حقیقت کښې دهغه مسلک نوم دی، چې مونږپه تابعدارۍ او د خوشحالۍ په تلاش مجبوروي .......دانسانیت سره نیک سلوک موبایدچې د ژوند مقصد وي،په دغه لړکښې په خپل ذات اونوروکښې هېڅ توپیرنۀ دې پکار،چې دا رنګې انسان پخپله دخپل ذات تکمیل هم مومي اودنورودخوشحالۍ او سوکالۍ سوب هم ګرځي. ددغې اصول ترمخه مونږکولی شوچې ډېره زریوه معیاري ټولنه په وجودکښې راولو".(1)

ښکلي اخلاق معاشرتي ژوند تېرولو کښې ډېر اهم دي. دنیا کښې ښۀ اخلاق د ټولو انسانانو دپاره د یو والي او د امن پېغام وي ځکه چې د انسانانو په مینځ کښې د ښو تعلقاتو او بیا د مضبوطو رشتو لویه ذریعه وي. بد ژوند تېرولو خرابو اخلاقو سره معاشرتي ژوند کښې بې اتفاقي او بد امني وده مومي او په راتلونکي ژوند کښې هر وخت عام اولس د خطرو سره مخ شي.

د رحمان بابا شاعري او اسلامي اخلاق :-

د اخلاقو د اهمیت له کبله په الله تعالیٰ خپل محبوب پېغمبر حضرت محمدصلی الله علیه وسلم داخلاقوپه لویه اواعلی درجه مقررکړی وۀ. د ښو عملونو بنیاد په ښکلي اخلاقو سره جوړېږي او څومره چې د انسان ښائسته اخلاق وي هغه هومره به ئې شخصیت هم ښائسته شي. قران مجید کښې هم الله تعالیٰ د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ښو اخلاقو په باره کښې فرمائیلي دي.

وَاِنَّكَ لَعَلٰى خُلُقٍ عَظِيْمٍ (2)

**ژباړه** :- او بېشکه ستا اخلاق عظیم دي.

انسانانو کښې زمونږ د خوږ نبی حضرت محمدصلی الله علیه وٓاله وسلم د ښو اخلاقو دې اعلٰي معیار ته غور وکړۍ چې د حضور صلی الله علیه وٓله وسلم غاښ مبارک د احد په غذا کښې شهید شو او د دې باوجود حضور صلی الله علیه وٓاله وسلم مخالفینو دپاره د بخښنې دعاګانې غښتلې. ښۀ اخلاقو سره انسان کښې شرافت پېدا شي. انسان ته هغه وخت شریف انسان وئیلې شي. ښکلي اخلاق او ښۀ عادتونه مونږ دپاره دوستان جوړوي ولې چې خلق هغه چا سره دوستانه جوړي د چا خوي خصلت چې ښۀ وي. د انساني اخلاقو متعلق رحما بابا په خپل کلام کښې فرمائي.

کر د ګلو کړه چې سیمه دې ګلزار شي
ازغي مۀ کره په پښو کښې به دې ښار شي
تۀ چې بل په غشیو ولی هسې پوه شه
چې هم دا غشې به ستا په لور ګزار شي (3)

د انساني اخلاقو متعلق په دنیا کښې ګڼ شمېر پوهانو د ښو اخلاقو تعلیم ورکړی دی۔ دنیا کښې د ټولو خلقو نه اعلیٰ نبیان، صحابه کرام، صالحین او درجه په درجه نور نېکان خلق راغلي۔ دوي ټولو چې اولس ته کومه ښودنه کړې ده نو هغه د ښکلي اخلاقو درس دے۔ قران مجید کښې الله تعالیٰ د انسان د ښکلي صورت په باره کښې فرمائیلي دي۔

..........**وَصَوَّرَكُمْ فَأَحْسَنَ صُوَرَكُمْ**.......(4)

**ژباړه** :- او هغه ذات چې ستاسو شکل ئې جوړ کړو او ډېر ښائسته ئې جوړ کړو

ډېر د فخر، وياړ او د لوی مقام یواځې حیثیت د اسلام دی چې زمونږه د خوږ پېغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم هره خبره او هر عمل تر نن ورځې پورې محفوظ او خوندي پاتې دي۔ دنیا ته زمونږ د پېغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وآله وسلم د راتګ اولنې مقصد خلقو ته ښو اخلاق ښودنه وه۔ د حضرت محمدصلی الله علیه وآله وسلم د اخلاقو متعلق پښتنه د حضرت عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنها نه هم شوې وه چې هغوي ورته په جواب کښې داسې اوفرمائیل۔

"دحضرت عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنهانه حضرت سعدبن هشام بن عامررضی الله تعالی عنه پښتنه اوکړه چې د حضورصلی الله علیه واله وسلم د ښو اخلاقو د کومو ستائنه چې قران مجیدکښې وَاِنَّكَ لَعَلٰی خُلُقٍ عَظِیمٍ وئیلې شوی دی هغه څۀ دي؟ حضرت عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنهاترې پښتنه اوکړه اَلَسْتَ تَقْرَاُ الْقُرْاٰنَ ؟ ایاتۀ قران نۀ لولی۔ هغوي عرض اوکړوچې لولم۔ هغوي رضی الله تعالی عنهااوفرمائیل دحضور صلی الله علیه واله وسلم خوي خوهم قران دی"۔(5)

الله تعالیٰ قران مجیدکښې د انسان د ښۀ عادتونو او د ښکلي اخلاقو ذکر فرمائیلی دی او د هغې اعلیٰ او بهترینه نمونه د حضرت محمدصلی الله علیه واله وسلم پاک ذات مبارک وۀ۔ مونږ که چرې د الله تعالیٰ بیان شوي تعلیماتو باندې غور اوکړو نو هغه ټول مونږ ته قران مجید کښې په نظر راځي۔د ښو اخلاقو په حقله رحمان بابا فرمائي۔

دهقان کر په لوړه زمکه باندې نۀ کا
سرکوزي کوه چې بڼ دې مرغزار شي
د مات لو ښي اواز کله ثابت خېژي
د هر چا عمل څرګند په خپل ګفتار شي (6)

د ښکلي اخلاقو په وجه انسان ته کائنات کښې لوی مقام حاصل دی۔ دنیا کښې د هر څیز ژوند ډېر په تېزۍ تېرېږي خو که دا ژوند د اخلاقو په دائره کښې دننه تېرېږي نو په دنیا او اخرت کښې به ورته انشاء الله ډېره لوړ مقام ملاوېږي۔ د انسان ښکلا ښۀ اخلاق دي ده او د دې په وجه د انسان په ناسته پاسته، خبرو اترو، او دغه شان د محفل په نورو ټولو ادابو کښې ئې ډېر لوی اثر وي۔

دا اسمان زمکه به وي او تهٔ به نهٔ يې
په ودانه ودانۍ کښې به ويجاړ شې
د بهار د ګلو عمر مدام نهٔ وي
عندليب غوندې به پاتې په اهاړ شې (7)

انسان که هر څومره ښکلې، صحت مند او دغه شان دنياوي لحاظ سره پوهه او هوښيار وي خو چې بد اخلاقه وي نو د داسې انسان په عام اولس کښې هېڅ قدر او عزت نهٔ وي او په معاشرتي ژوند کښې ورته خلق د انسانيت په نظر نهٔ ګوري۔ د انسان تخليق الله تعالىٰ په ښکلي خويونو سره کړې دی۔ د انسان د ښکلي شکل په حقله الله تعالىٰ په قران مجيد کښې فرمائيلي دي۔

لَقَدْ خَلَقْنَا الْاِ نْسَانَ فِيٓ اَحْسَنِ تَقْوِيْمٍ ۝ (8)

**ژباړه** :- خامخا په تحقيق سره پيدا کړې دی مونږه انسان په ښهٔ شکل کښې د اسلام مطابق يو انسان به بل سره مهرباني او همدرد کوي، خپلو کښې دې غم شريک کوي، خپلو کښې دې يو بل دپاره دعاګانې غواړي او دغه شان يو بل سره دې په ښو اخلاقو ملاوېدل کوي۔ دا ټولې دوستۍ، محبتونه، مهربانۍ او خپلو کښې خېر خواهۍ دا د ټولو انسانانو دپاره غوره صفات دي لکه څنګه چې رحمان بابا فرمائيلي دي۔

کوهې مهٔ کنه د بل سړي په لار کښې
چرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
ادم زاد واړه په معنىٰ د يو صورت دي
هر چې بل ازاروي هغه ازار شي(9)

د ښو اخلاقو په وجه د دنياپه هره معاشره کښې د انسانانو په مينځ کښې اتفاق برقرار وي۔ د ژوند په هر دور کښې نهٔ صرف د ښو اخلاقو حوصله افزائي کېږي بلکې د ښو اخلاقو په وجه هره زمانه کښې انسانان د يو بل نه متاثره کېږي۔ د ښکلي اخلاقو په وجه يو انسان د معاشرتي ژوند يو ښهٔ او مثالي شخصيت جوړ شوی دی۔ الله تعالىٰ قران مجيد کښې فرمائي۔

وَاِذَامَاغَضِبُوْا هُمْ يَغْفِرُوْنَ ۝ (10)

**ژباړه** :- اوپه هغه وخت کښې چې په غضب شي دوي بخښنه کوي۔

ښائسته اخلاق د مسلمان ګناهونه داسې ختموي لکه څنګه چې اوبهٔ واوره ولې کوي او بد اخلاقي نېکۍ داسې ختموي څنګه چې سرکه شات خرابوي۔ انسان هله مکمل وي چې اخلاق ئې ښکلي وي۔ صبر او برداشت سره يو مسلمان اعلىٰ درجې ته رسوي۔ رحمان بابا ښهٔ اخلاق داسې بيانوي۔

که تهٔ نهٔ کوې نظر د چا و عېب ته
هر سړي به ستا په عېبو پرده دار شي

لړ ئې مهٔ ګڼه که هر څو ګناه لږ وي
چې لږ لږ وي بله جمع کړې بسيار شي (11)

موږ ته د حضرت محمد صلی الله علیه واله وسلم د پاک سيرت مطالعه کولو نه پس دا خبره ښهٔ واضحه په نظر راځي چې حضور صلی الله علیه واله وسلم ټول انسانيت ته ښو اخلاقو ډېر زيات درس ورکړی وهٔ. انسان له د ښو اخلاقو مظاهره هر وخت او هر ځائی کښې ډېره ضروري ده. رحمان بابا وائي.

هغه زړهٔ به له طوفانه په امان وي
چې کشتۍ غوندې د خلقو باربردار شي
خدای دې بد له لاسه نهٔ کا او که وي هم
د رحمان دې له کل بدو استغفار شي (12)

هره معاشره کښې چې څومره د يو انسان اخلاق ښهٔ وي نو هغه معاشره کښې به امن او خوشحالي وي او د انسانانو په مينځ کښې به خېر ښېګړې جذبې رابېدارېږي. ښهٔ اخلاق په حقيقت کښې د يو مسلمان ايمان ته مضبوطيا او زړهٔ ته اطمينان او سکون ورکوي. ښهٔ اخلاق د مسلمان دپاره يو جلالی صفت هم دی. د ښکلي اخلاقو په حقله حضرت محمد صلی الله علیه واٰله وسلم ارشاد مبارک دی.

حَدثَنَا النُّفَيْلِيُّ حَدثَنَا زُهِيْرٌ حَدثَنَا قَابُوْسُ بْنُ أَبِي ظَبْيَانَ أَنَّ أَبَاهُ حَدثَهُ حَدثَنَا عَبْدُاللهِ بْنُ عَبَّاسٍ أَنَّ نَبِيَّ اللهِ صَلَّي اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ إِنَّ الْهَدْيَ الصَّالِحَ وَالاقْتِصَاد جُزْئٌ مِنْ خَمْسَةٍ وَعِشْرِيْنَ جُزْئًا مِن النُّبُوَّة(13)

**ژباړه** :- نفيلي،زهير،قابوس، بن ابو ظبيان د حضرت عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه نه روايت دی چې نبی صلی الله علیه واٰله وسلم فرمائي غوره خوي خصلت،غوره اخلاق او اعتدال د نبوت د پنځهٔ وېشتو(۲۵) توکو (اجزا) نه يو توکي (جز) دی.

حضور صلی الله علیه واٰله وسلم به د چا نه بدل نهٔ اخستو او نهٔ به ئې چا ته غصه کوله، د څهٔ څيز طمع به ئې د چا نه نهٔ کوله. نن زمانه کښې بعضې خلق دنياوي لالچ کښې د دولتمندو خلقو خوشامندې کوي او ځان په خپله نورو خلقو ته رسوا کوي. هر انسان له خپل زړهٔ بل انسان ته صفا ساتل پکار دي ځکه چې بدنيتي انسان تباهۍ ته رسوي او دا ثفت په يو انسان کښې د کم خوراک په وجه پېدا کېږي. د دې صفت په حقله رحمان بابا فرمائي.

کم خوراک سړي نزدې شي فرښتو ته
هر سړي چې بسيار خور شي بسيار خوار شي

صاف دلانو لره لږ نصيحت بس دي
د ګوهرو پېوستون په نري تار شي(14)

مونږ له په خپل اجتماعي، انفرادي، سماجي، معاشرتي، ثقافتي، سياسي، او روحاني ژوند کښې تردې پورې چې په بين الاقوامي توګه تعلقاتو کښې هم د غوره اخلاقو مظاهره پکار ده ـ د ټولو انسانانو د خوشحالۍ او د ترقۍ راز په ښائسته اخلاقو کښې پټ دې ـ

د مکې په بزرګۍ کښې هېڅ شک نشته
ولې خر به حاجي نۀ شي په طواف
که په سل دريابه غسل د ځان وکه
ګمان مۀ کړه چې سپي شي پاک وصاف (15)

انساني ژوند کښې د ښو اخلاقو ډېر لوړ مقام او حيثيت وي او انسان په هر لحاظ سره د انسانيت اعلیٰ درجې ته رسوي ـ معلومه شوه چې ښکلي اخلاق او ښۀ عادتونه انسان دپاره د ژوند تېرولو يو اهمه او ضروري برخه وي ـ ښۀ اخلاق اصل کښې د انسان په ژوند تېرولو کښې اهم کردار ادا کوي ـ سيد سلېمان ندوي او مولانا شبلي نعماني په خپل کتاب "سيرت النبي" کښې د اخلاقو متعلق فرمائي ـ

"خوش گوئی اور خوش کلامی آپس میں میل ملاپ پیدا کرتی ہے، اور بد گوئی اور بد کلامی پھوٹ پیدا کرتی ہے، جو شیطان کا کام ہے، وہ اس کے ذریعہ سے لوگوں میں غصہ، نفرت، حسد اور نفاق کے بیج بوتا ہے، اس لئے اللہ کے بندو کو چاہیئے کہ نیک بات بولیں، نیک بات کہیں، اچھے لہجہ میں کہیں اور نرمی میں کہیں کہ اپس میں میل ملاپ اور مہر و محبت پیدا ہو". (16)

**ژباړه** :- پستې او خوږې خبرې په خپلو کښې راشه درشه زياتوي، او ستغې سپورې خبرې جدائي او لرې والې پيدا کوي چې د شېطان کار دی، هغه د دې په ذريعه په خلقو کښې غصه، کرکه، حسد او د بې اتفاقۍ تخم کري، د دې دپاره د اللهؕ نېک بنديګانو له پکار دي چې نېکه خبره کوي، په ښۀ لهجه کښې ئې کوي او په نرمۍ سره ئې کوي چې په خپلو کښې ملاوېدل او مينه محبت پيدا شي ـ

مونږ ټولو مسلمانانو له د حضور صلی الله عليه وآله وسلم په ښکلي اخلاقو پوره پوره غور پکار دی لکه څنګه چې به د هغوي صلی الله عليه وآله وسلم مخ مبارک به هر وخت روښانه وۀ او چې کله به ئې خبرې کولې نو ډېر په قلاره او سکون سره به ئې فرمائيلې ـ اخلاقو اصولو په حقله محب وزير په خپل کتاب "پښتو کلاسيکي شاعرۍ کښې انسان دوستي" کښې ليکلې دي ـ

"اسلام کښې د اخلاقياتو يو داسې نظام مرتب شوی دی چې نۀ ئې يو دين يا مذهب ردکولی شي او نۀ ترې په جهاني سويه هېڅ يوه انساني ټولنه انکارکولی شي ـ دحقوق العباد په لړکښې ئې د نن نه پنځلس سوه کاله پخواداسې اصول اوقوانين ټاکلي دي،چې دانساني حقونوتنظيمونه ئې نن په دې جديد اوسائنسي دورکښې هم د منلونه انکارنۀ شي

کولی ـ په اسلام کښې چې داٰدميت داحترام کوم تصور دی، هغه په هېڅ صورت د ننني
انسان دوست تنظيمونو د منشور نه کم نهٔ دی".(17)

انساني ژوند کښې انفرادي اخلاق اجتماعي اخلاقو له وده ورکوي او ګېر چاپېره ماحول ته امن او خوشحالي هم ملاوېږي ـ د څهٔ شک و شبې نه بغېر د انبياؤ عليهم السلام دعوت چې چرته هم په توحيد او رسالت باندې شامل وو نو ورسره د هغه پېغمبر د دعوت بنيادي نقطه د اخلاقو درس وۀ ـ

صبر ونيسه په مخ کښې که مراد غواړې
په تلوار به هېڅ ونهٔ کړې که تلوار کړې
چې مدام د بل و عېب وته نظر کړې
خدای له خپله عېبه ولې نا خبر کړې (18)

ښهٔ اخلاق او کردار يو بل دپاره لازم وي ځکه چې ښکلي اخلاق مسلمان ته د زړهٔ سکون ورکوي او دغه سکون بيا انسان کښې برداشت پېدا کوي ـ داسې خلقو ته رحمان بابا فرمائي ـ

که يوه جو دانه عېب ويني په بل کښې
هغه يو جو دانه عېب به ئې لوي غر کړي
که دې خپله ګناه لويه لکه غر وي
په حيله حيله به غر د مچ وزر کړې (19)

ښهٔ اخلاق دا دي چې څوک درسره بد کوي تهٔ ورسره ښهٔ کوه، کېدې شي ستا د ښو اخلاقو نه متاثره شي او د غوره اخلاقو انسان جوړ شي ـ د ښکلي اخلاقو په وجه د انسان زړهٔ د حسد ،بغض، بد نيتۍ او د نورو ګناهونو نه پاک شي ـ ښکلي اخلاق يو بل سره مينې، محبت او همدردۍ له وده ورکوي ـ رحمان بابا په خپل د ښو اخلاقو په حقله وائي ـ

خدای و تا د ملائکو مقام درکړ
تهٔ دا خپل صورت په خپله ګاو وخر کړې
که دې يو وېښتهٔ د ځان دپاسه کوږ شي
ځان هغه ساعت له خدايه مرور کړې(21)

دروغ وئيل، خلقو ته نقصان ورکول، غيبت کول، غلا کول، د انسان قتل کول او زنا کول دا هغه لوئې ګناهونه دي چې بد اخلاقي پېدا کوي ـ انسان که د دې لويو ګناهونو نه خپل ځان وساتي نو په معاشرتي ژوند کښې به ئې ډېر عزت وي څنګه چې رحمان بابا وائي ـ

انسانیت څۀ په دولت نۀ دی رحمانه
بت که جوړ شي د سرو زرو انسان نۀ دی
که مې سل نصیحتونه ورته وکړۀ
دا خدای بې لارې کړي په لار نۀ شو(21)

لنډه دا کوم انسان کښې چې تقوٰي دار وي نو په هغۀ کښې به ښۀ اخلاق هم وي. یو انسان چې د دین په ټولو حکمونو پوره پوره عمل وکړي او ورسره په خپل ژوند کښې اخلاق او کردار روغ ساتي نو بیا داسې انسان په معاشره کښې ډېر په عزت یادېږي.

# حوالې


1. ول ډيورانټ ، داستان فلسفه، جلددوم، ترجمہ۔سيدعابدعلي عابد ، لاهور، مکتبه اردو ، طبع دوم،۱۹۶۴ء ، مخ ۵۳ - ۵۲
2. القران ، سوره ، القلم، ايت 4
3. عبدالرؤف بېنوا ، د رحمان بابا ديوان،پېښور ، د پښتو ټولنه،۱۹۴۷ء، مخ۱۴۰
4. القران ، سوره ، المومن ، ايت 64
5. الحديث ،صحيح مسلم، صلاةالمسافرين ،ص 746
6. د رحمان بابا ديوان، مخ ۱۴۰
7. هم دغه کتاب، مخ ۱۴۰
8. القران ، سوره ، التين ، ايت 4
9. د رحمان بابا ديوان، مخ ۱۴۰
10. القران ، سوره، الشوريٰ ، ايت 37
11. د رحمان بابا ديوان، مخ ۱۴۰
12. د رحمان بابا ديوان، مخ ۱۴۰
13. الحديث ، ابوداود ، حديث 1348 ، جلدسوم ،ص 1114
14. د رحمان بابا ديوان، مخ ۱۴۱
15. هم دغه، مخ ۹۵
16. نعماني ، مولانا شبلي ،ندوي،مولانا سيدسليمان، سيرت النبي، جلد ششم، لاہور ، مکتبه تعمير انسانيت ، اردو بازار، س ن، ص 460
17. وزير، محب، پښتوکلاسيکي شاعرۍ کښې انسان دوستي، يونيورسټي بک اېجنسي خيبر بازار پېښور، اپرېل ۲۰۱۲ء، مخ ۳۵
18. د رحمان بابا ديوان، مخ ۱۴۰
19. هم دغه، مخ ۹۵
20. هم دغه، مخ ۱۳۵
21. هم دغه، مخ ۱۳۵